# پښتني اخلاقيات او ټپه

## Title; Ethical Aspects of Pashto Folk Genre "*Tappa*"

Dr. Noor Muhammad Danish Betanai ★

**Abstract:**

Tappa is one of the most unprecedented folkloric genere of Pashto Poetry. The ethenographic study of diverse Pashtun cultural zones indicates that, Tappa is one of the omnipresent genere in almost all the cultural zones. As Pashtun mainly rely on the oral tradition, therefore the power of key folkloric generes have always been recognized and has inspired the ordinary persons. In this paper, the scholar has probed the ethical dimension unfolded in the *Tappa*. He has probed into the concepts of the ethics as an independent discipline and then has contexualized the contents in the *Tappa*.

پښتو يوه ژبه هم ده او د ژوند تېرولو نوم هم دی ـ د پښتو ژبې نه پښتون وګړی پېدا شوی دی ـ او بيا دغه پېدا کېدۀ په خپل ماحول او ددې ژبې په لارو چارو سره متعلق ژوند تېرول د پښتون لپاره يو لازمي څيز دی ـ ځکه چې ددغه کردارونو او خوئي نه بغېر د پښتون ژوند تېرول ګران کار ښکاري ـ بلکه پښتون بغېر له دې پښتون پاتې کېږي هم نه ـ دا اخلاق او کارونه پخپل ځان پوره پوره منل وي ـ او د پښتو د شان سره ئې تر سره کول وي څوک چې دا کارونه په دغه طريقه کوي ـ هغه پښتون بللی شي ـ او څوک چې ئې نۀ کوي نو هغه د پښتون وئيلو جوګه نۀ ګڼل کېږي ـ په دغه اخلاقو کښې ننګ ، توره ، مړانه ، غېرت ، پت ، وفا وغېره راځي ـ او په دې کښې څوک يو کار او طريقه هم نشي هېرولی ـ بلکه په دا د پښتون وجود جوړېږي ـ يعني ننګ به هم کوي پت به هم پالي نيکي به هم کوي غېرت به هم ـ توره به هم وهي او نور د اخلاقياتو سره پېوست کارونه به هم کوي ـ ګني نه پښتو پاتې کېږي او نۀ پښتون ـ اول له دې نه چې مونږ پښتني اخلاقياتوته د ټپې په رڼا کښې اوګورو دا ووايو چې اخلاقيات څۀ ته وائي ـ

★ Assistant Professor, Pashto Academyc University of Peshawer

اخلاقيات د انساني عمل د ښو او د بدو د تعين ، د هغه دکردار د مثبت او منفي اړخ پېمانه ده ـ اخلاقيات د انساني کردار د ښو او د بدو د فلسفې نوم دی ـ اخلاقيات يو علم دی ـ چې د هغې په ذريعه مونږ د ژوند کړۀ وړۀ ښۀ او بد ، ښائسته او بد رنګ ، سپين او تور ، رڼا او تيارۀ پېژنو ـ

انسائيکلوپيډيا امريکانا کښې د اخلاقياتو تعريف داسې شوی دی :

"The theory of what is ultimately good or worth wile, of moral rights and obligation of commendable conduct or character"(1)

ترجمه :-داسې نظريه چې هغه په مکمل توګه باندې د ښو ، اهمو ، اخلاقي حقونو او د ذمه دارۍ احساس او قابل تعريف طرز عمل او کردار عکاسي کوي ـ

اخلاقيات دخېر او شر يوه داسې فلسفه ده په کومه کښې چې د يوې ټولنې وګړي د خپلو نفسياتو او تهذيبي رويو او اقدارو تر لاندې د نيکۍ او بدۍ د ښۀ او بدمعيارونه ټاکي ـ

پښتو نه صرف د پښتون قام يوه ژبه ده بلکه پښتو د پښتون قام ضابطه اخلاق دي ـ دا د ټولو پښتنو يو نا ليکلی (Unwritten Constitution) آئين دی ـ چې په دې ټول پښتانۀ عمل کوي ـ په دې کښې د پښتنو رسم و رواج ، دود دستور ، کارکسب ، غم ښادي ، تيره ، پښتو ، وفا ، ښېګړه ، مېلمستيا ، بدل وغېره هر څۀ راځي ـ او پښتانۀ په دې ټولو د زړۀ د تل نه عمل کوي او څوک چې په دې عمل نۀ کوي هغه د پښتون په دائره کښې نۀ راځي ـ

پروفيسر داور خان داؤد صيب ليکي :-

" پشتو کے علماء لفظ پختون او لفظ "پختو،، میں شامل جملہ حروف یعنی پ، ښ ،ت، و، ن کو فلسفہ پختو یا پختونولی میں شامل ان جملہ بنیادی ارکان کے لئے علامات تصور کرتے ہیں. جو درجہ ذیل ہیں. پت، خیگڑہ، تورہ، وفا او ننگ یہ وہی ارکان ہیں جن کی ہمارا مذہب بھی تائید و تلقین کرتا ہے(2) ،

ترجمه :- دپښتوعالمان دپښتون اولفظ پښتوکښې جمله حرفونه يعني پ ، ښ ، ت ، و ، ن په فلسفه پښتون ولي يا پښتو کښې شامل دغه ټول بنيادي ارکان علامتونه شماري چې دغه دي ـ پت ، ښېګړه ، توره ، وفا او ننګ ـ دا هغه ارکان دي د کومو چې زمونږ مذهب هم تائيد او تلقين کوي ـ د پښتني اخلاقياتو بنيادي ارکان پت، ښېګړه، توره، وفا او ننګ دي ـ

پت د پښتني اخلاقيات هغه بنيادي رکن او عنصر دی چې پښتون ئې ټولې دنيا ته وړپېژندلی دی ۔ د پت معنٰی ده شرم و حيا ، عظمت ، شرافت ، قرباني ۔ د پت باره کښې پرېشان خټک ليکي :-

" پت در اصل دوستی میں اس اعتباری کا نام ہے جس میں قول و عہد کی پاسداری کی قیمت میں سر کی بازی لگانے کے لیے ہے. سوچے سمجھے ہر دم تیار رہنا ہے"(3) ،،

ترجمه :- پت په اصل کښې دوستۍ کښې د هغه اعتماد نوم دی چې هغې کښې په وعدې سرته رسولو په قيمت کښې د سرقرباني وي ۔ په خوښه هر وخت تيار اوسېدل وي ۔

پروفېسر ډاکټر راج ولي شاه خټک صيب ليکي :-

" پت کیا ہے یہ پشتون اخلاقیات کا ایک قدر ہے جس کے معنی ہیں عزت و آبرو، شرم، حیاو ناموس وغیرہ. پشتون زندگی کا اصل مقصد عزت و آبرو کے ساتھ گذر اوقات کرنا ہے پت کا پاس رکھنا ہے اور پت کے راستے پر چلنا ہے پشتون کے تمام خصوصیات کا احاطہ یہی پت کرتا ہے "(4)،

ترجمه :- پت څۀ شی دی دا د پښتون اخلاقياتو يو قدر دی
چې د هغې معنٰی ده عزت و آبرو ، شرم ، حيا او وفا ، ناموس وغېره ۔ د پښتون د ژوند اصلي مقصد عزت سره وخت تېرول دي ۔ پت پالل او د پت په لارې تلل دي د پشتون د ټولو خصوصياتو احاطه دغه پت کوي ۔

پښتو ټپې پت په داسې ښکلي او ښائسته انداز کښې بيان کړی دی چې د پښتو اولسي ادب بل يو صنف ئې سيالي نشي کولی ۔ ټپه د پښتو اولسي ادب واحد صنف دی چې پښتون ئې د پت په معنٰی پوهـ کړی دی ۔ دا لانديني ټپې د پښتون د پت ښۀ ښکلې نمائندګي کوي ۔

په پت کښې تور مصلي ښۀ دی
بې پته يار که شهزاده وي څۀ به ئې کړمه"(5)

پرېږده چې خان د ملکه ورک کړم
چې د بې ننګه اشنا سترګې نۀ وينمه"(6)

د پروفېسر ډاکټر راج ولي شاه خټک صيب دا خبره سل په سله رښتيا ده چې د پښتون د ټولو خاصيتونو ،اخلاقو، کړو ، وړو ، هر څۀ احاطه پت کوي ۔ دا خبره

چې پښتو ټپې په کوم ښکلي انداز کښې بیان کړې ده د هغې اندازه مونږ ددې ټپې نه کولی شو.

پښتون په پت باندې پښتون دی
د پت نشان تل په اوچت په جهان وینه(7)

ښېګړه د پښتني اخلاقیاتو دویم رکن دی. ښېګړه بغېر د څۀ مطلب او بغېر د څۀ لالچ ، غرض اومقصد نه بل انسان سره ښۀ کولو ته وائي. یعني داسې ښۀ کول چې هغې کښې ستا نوم ښکاره نشي. هغې ته ښېګړه وئیلی شي. ښېګړه د اردو ,, خدمت خلق ،، او د انګرېزۍ (Social welfare) نه په بېل ډول ده. او دا دواړه هم د ښېګړې برابر نۀ دي. دواړه که د ښېګړې نه کم نۀ دي. خو د ښېګړې سیالي هم نۀ شي کولی. پروفیسر ډاکټر راج ولي شاه خټک صیب د ښېګړې په حقله لیکي :-

" شیگڑہ پشتو میں نیکی، احسان یا شاید عوامی یا قومی ہمدردی کو بھی کہتے ہیں. یہ نیکی اور احسان پشتون فطرت کی ایک ایسی صفت ہے جو دنیا کے دیگر اقوام سے مختلف ہے" (8)

ترجمه :- ښېګړه پښتو کښې نیکي ، احسان او یا شاید عوامي یا قامي همدردۍ ته هم وئیلی شي. دا نیکي او احسان د پښتون فطرت یو داسې صفت دی چې د دنیا د نورو قامونو نه مختلف دی.

پښتون د چا احسان نۀ اخلي. بدل زما په خیال د پشتني اخلاقیاتو د بنیادي ستنې حېثیت لري. پښتون په نیکۍ کښې هم او په بدۍ کښې هم د بدل اخستو قائل دی. کلتوري توګه باندې مونږ ددې خبرې پابند یو چې مونږ به ښېګړه کوو ، یعني ښېګړه د پښتون غټ او ښکلی صفت دی. د نورو پښتني اخلاقیاتو په شن ښېګړه هم پښتو ټپې را اخستې ده. او په ډېر ښائسته انداز کښې ئې بیان کړې ده. په کوم پښتون کښې چې ښېګړه نۀ وي هغه هډو پښتون کېدی هم نشي ځکه خو پښتنه پېغله داسې سر ځنې ټکوي.

چې څۀ ښېګړه په کښې نۀ وي
که مې سکه د دادا زوئی وي ورک دې شینه"(9)

ښۀ انسان هغه دی ملګرو
څوک چې فائده د خدائی مخلوق ته رسوینه"(10)

ښــــــۀ او بـــــــد دواړه دي پـــــه ځـــــان کښـــــې
تـــا چـــې څنـــګ ځـــان کـــړو هغـــه شـــان بـــه جهـــان شـــينه"(11)

توره هم د پښتني اخلاقياتو يو هنر ، علامت او صفت ګڼلی شي ۔ توره يوه هغه توره ده چې د اوسپنې نه جوړه وي ۔ خو دا توره هغه توره نۀ ده ددې اصطلاحي معنٰی ده بهادري ، مړانه ، تورزن والی او توره کول ۔ دا د مړانې او بهادرۍ په معنو کښې استعمالېږي ۔ پښتون خواه که هر څۀ وي خو چې بهادر تکړه ، تورزن ، دلېر ، زړور او توريالی نۀ وي هغه پښتون نۀ دی ۔
پروفيسر ډاکټر راج ولي شاه خټک د تورې باره کښې ليکي :-

*" توره جس کو اردو میں تلوار کہتے ہیں ایک اسلحہ اور آلہ بھی ہے ۔ اور پشتونوں میں یقینی طور پر اس اسلحے کا رواج اتنا ہی پُرانا ہے جتنا کہ لوہے کا تاریخ پرانا ہے ۔ پھر ترکے زمانے کی آثار کا پشتون تاریخ میں نمونہ دریافت نہیں ہوا ہے اور نہ ادب کی قدامت کا اندازہ ہوا ہے ۔ جس میں تلوار کے بجائے کسی اور اوزار کا نام البتہ ہو سکتا ہے کہ اسلحے کے طور پر تلوار کی تاریخ لوہے کی تاریخ سے بھی پرانی ہو ۔ تلوار چونکہ ہمیشہ سے میدن جنگ میں استعمال ہونے والا اسلحہ رہا ہے اور شجاعت ، بہادری اور جرائت کی علامت بھی ہے تو اس سبب سے تورہ کا لفظ پشتو زبان میں حقیقی معنوں میں استعمال نہیں ہوتا ۔ جتنا کہ اصطلاحی معنوں میں مستعمل ہے ۔ اور یہ اصطلاح پشتون ذات کی ایک قدر کی نمائندگی بھی کرتی ہے یہ شجاعت و بہادری کی قدر ہے اور پشتون کی ذات کی بنیادی اوصاف میں شمار ہوتی ہے "(12)*

ترجمه :- توره چې هغې ته په اردو کښې تلوار وئيلی شي يوه اسلحه او آله هم ده ۔ او پښتو کښې يقيناً ددې اسلحې رواج دومره پخوانی دی څومره چې د اوسپنې تاريخ پخوانی دی ۔ د کاڼو د زمانې آثار پښتون تاريخ کښې نمونه نه ده موندلې شوې او نه د ادب قدامت اندازه معلومه شوې ده ۔ چې په هغې کښې البته د تورې نه علاوه د بل اوزار نوم کېدی شي چې د اسلحې په طور د تورې تاريخ د اوسپنې تاريخ نه پخوانی ؤ ۔ توره چونکه همېشه د جنګ په مېدان کښې د استعمالولو اسلحه راغلې ده او د شجاعت ، بهادرۍ ، جرات علامت هم دی ۔ نو په دې سبب د تورې لفظ پښتو ژبه کښې په اصلي معنو کښې نۀ استعمالېږي ۔ څومره چې دا په اصطلاحي معنو کښې استعمالېږي ۔ او دا اصطلاح د پښتون ذات د يو قدر نمائندګي هم کوي دا د تکړه توب او مړانې قدر ده او د پښتون ذات په بنيادي صفتونو کښې شمېرلی شي ۔

پښتو ټپه کښې هم د توري ډېرې ستائنې شوې دي ـ او پښتنې پېغلې خپل تور وربل میراتوي خو چې کله په وطن جنګ وي نو خپل لالي ته وائي چې ګوره چې بې غېرتوب ونکړې ما ډېرو همځولو پورې خندلي دي ـ او که تا بې غېرتوب اوکړو نو سبابه ما پورې هم همځولې خاندي ـ پښتو ټپې چې توره په کوم انداز کښې بیان کړې ده ـ هغه ټولې ټپې خو دلته رانقل کول ناممکن دي خو یو څو نمونې ئې دا دي ـ

چې تور نه کړې نور به څه کړې
چې دې شودهٔ د پښتنې رودلې دینه"(13)

د تورو جنګ وی مابه وو کړی
د نصیب جنګ دی وار خطا ولاړه یمه"(14)

ددې نه علاوه بلا ډېرې ټپې شته چې د توري ذکر پکښې شوی دی ـ لکه څنګه چې حجره او چیلم لازم او ملزوم دي او یو بل سره تړلي دي ـ دا شان توره او پښتون هم د یو بل سره داسې تړلي او پېوست دي ـ چې د توري نه بغېر د پښتون ذکر او د پښتون نه بغېر د توري ذکر به نیمګړی او نیمه خوا وي ـ پښتون په توره کښې پېدا لوئی شوی او مړ شوی دی ـ

وفا هم د پښتني اخلاقیاتو بې مثاله قدر ، صفت او علامت دی ـ وفا پالل، لوظ تر سره کول خپله خبره سرته رسول د پښتون هغه خویونه ، عادتونه او علامتونه دي ـ چې پښتون ئې د نورو خلقو نه ممتاز کړی دی ـ پښتون چې یوه خبره وکړي نو سرته ئې رسوي ـ د وفا هم مختلف قسمونه دي ـ د خپل ملک سره وفا کول ، مور پلار سره وفا کول ، خپل مذهب سره وفا کول، خپلې خاورې سره وفا کول او انسانیت سره وفا کول ـ وفا د پښتني اخلاقیاتو هغه قدر دی چې پښتون چرته هم وي او په کوم حال کښې هم وي ـ د هغه هر اندام نه به د وفا شات څاڅي ـ

پریشان خټک د پښتون د وفا په حقله وائي :-

" میں اس سلسلے میں کیا کیا مثالیں پیش کروں گا مگر وفا پشتون زندگی کا ایک ایسا پہلو ہے کہ پشتون خواہ کتنا ہی میلا کچیلا کیوں نہ ہو مگر اس کے وجود سے پھر بھی ایک خوشبو آتی ہے جو وفاداری کی ہے"(15)

ترجمه :- زۀ به په دې حقله کوم کوم مثالونه وړاندې کړم خو وفا د پښتون د ژوند يو داسې اړخ دی چې پښتون که هر څومره خيرن ولې نۀ وي خو د هغه بدن نه به د وفا خوشبوئي ځي۔

د پښتني اخلاقياتو په دې اړخ هم پښتو ټپې ښۀ په خلاص مټ وينا کړې ده ۔او د پښتون وفا په حقله هم بلا ډېرې ټپې وئيلې شوې دي۔

خــــاورې ايـــــرې بــــــه دې راتــــــول کــــــړم
لکــــه کچکــــول بــــه دې پــــه غـــــاړه کرځومـــــه"(16)

يــــــو وفــــــادار اشــــــنا مــــــې بــــــس دی
ســـل بـــې وفـــا کـــه اشـــنايان شـــي څـــۀ بـــه ئـــې کړمـــه"(17)

ننګ د پښتني اخلاقياتو هغه بنيادي اهم او ښکلې صفت دی چې پښتون ئې د نورو قامونو نه بېل کړی او ممتاز کړی دی ۔د ننګ معنٰی ده غېرت او پښتو ۔د پښتون ضابطه اخلاق ته ننګ وئيلی شي ۔ننګ يوه جذبه ده او دا جذبه فطري ده ۔پښتانۀ ننګيالي دي۔ پروفيسر ډاکټر سلمٰی شاهين ليکي:

„ پښتون فطرتاً حريت پسند دی ۔د خپلو قوانينو او معاشرتي اقدارو او رواياتو قدردان دی ۔د خپلې خاورې سره بې کچه مينه لري او په خپل وطن ننګ کول د هغه خاصه ده ۔هر څو که د پښتو وضع شوي قوانين په انفرادي ډول هغه ته اذيت ورکوي ولې بيا هم هغه ددغه وضع کړي شوي ناليکلي ائين په رڼا کښې هغه څۀ ته غاړه نۀ ږدي چې د هغه پښتو او پښتون ولۍ له نقصان ورکوي ۔او نه چرې د هغې حالاتو سره سمجهوته کوي کومه چې ددې برخلاف وي ۔پښتون وګړی ددې وضع کړي شوي قانون نه ځان ژغورل نۀ غواړي"(18)

پروفيسرډاکټرراج ولي شاه خټک صيب دننګ متعلق وائي:

*" يہ ايک اہم معاشرتی قدر ہے اگرچہ اس کی پابندی کا قانون اتنا سخت نہيں ہے جتنا کہ ديگر اقدار کا ہے ليکن ننگ کی قدر اس لئے بھی مرکزی حيثيت رکھتی ہے کہ اس قدر کی وجہ سے پشتون کی شناخت ہوتی ہے اور شايد يہ ايک ايسی قدر ہے جو پشتونوں کو ديگر اقوام سے ممتاز کرتی ہے"(19)*

ترجمه :- دا يو اهم معاشرتي قدر ده ۔که ددې د پابندۍ قانون دومره سخت نۀ دی څومره چې د نورو قدرونو دی ۔خو د ننګ قدر ځکه مرکزي حېثيت لري

چې ددې قدر په وجه د پښتون پېژندګلو کېږي ـ او شايد دا يو داسې قدر ده چې پښتون د نورو قامونو نه ممتاز کوي ـ

پښتو ټپې هم د ننګ باره کښې ډېرې وېناګانې کړې دي ـ د ننګ ستائينه ئې په رنګ رنګ او ډول ډول کړې ده ـ

بــــې ننګـــــه ننـــــګ رابانــــــدې وکـــــړه
صـــبا مـــې ســـتا پـــه ســـر پانســـې تـــه خېژوينـــه"(20)

***

# حوالې


(1) Encyclopedia Americana, American corporation New York Chicago Washington D.C 1829 , Page No 535

(2) داؤد، داور خان پروفیسر، حمزه شنواري ایک مطالعه، پشاور جدون پریس، ۱۹۹۶ء، صفحه ۴۰

(3) خټک پریشان، پروفیسر، پښتون کون، پښتو اکیډیمي پېښور یونیورستې پېښور **۲۰۰۵**ء ، مخ ۱۴۰

(4) خټک راج ولی شاه ډاکټر، پروفیسر، پښتون ولی، پشتو اکیڈمی پشاور یونیورسٹی پشاور، ۲۰۰۸، مخ ۳۲

(5) سلمیٰ شاهین، روهي سندرې، اول جلد ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورستې پېښور **۱۹۸۴**ء مخ ۱۱۹

(6) سلمیٰ شاهین، روهي سندرې، اول جلد ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورستې پېښور، **۱۹۸۴**ء مخ ۱۱۲

(7) همدغه مخ ۱۱۴

(8) خټک راج ولی شاه ډاکټر، پروفیسر، پښتون ولی، پشتو اکیڈمی پشاور یونیورسٹی پشاور، ۲۰۰۸ء صفحه ۳۷

(9) سلمیٰ شاهین، روهي سندرې، دوېم جلد ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورستې پېښور ، **۱۹۹۴**ء مخ ۱۴۲

(10) شاکرالله شاکر، حد تمام مصرعی، پېښور، زیب ارټ پبلشرز محله جنګي ،پېښور **۲۰۰۴**ء ، مخ ۱۱

(11) همدغه مخ **۵۷**

(12) خټک راج ولی شاه ډاکټر، پروفیسر، پښتون ولی، پشتو اکیڈمی پشاور یونیورسٹی پشاور، ۲۰۰۸ء صفحه ۴۴، ۴۵

(13) سلمیٰ شاهین، روهي سندرې، اول جلد، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي پېښور، ۱۹۸۴ء مخ ۲۱۱

(14) سلمیٰ شاهین، روهي سندرې، اول جلد، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي پېښور، ۱۹۸۴ء مخ ۳۰۲

(15) خٹک پریشان، پروفیسر، پشتون کون؟ پشتو اکیڈیمی پشاور یونیورسٹی پشاور، اشاعت دوم، ۲۰۰۵ء مخ ۱۷۳

(16) سلمیٰ شاهین، روهي سندرې، اول جلد، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي پېښور ۱۹۸۴ء مخ ۲۴۲

(17) سلمیٰ شاهین، روهي سندرې، اول جلد، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي پېښور، ۱۹۸۴ء مخ ۲۵۲

(18) سلمیٰ شاهین، د پښتو ټپې معاشرتي اثر، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي پېښور ۸۹-۱۹۸۸ء، مخ ۳۲

(19) خٹک، راج ولی شاہ ڈاکٹر پروفیسر، پشتون ولی، پشتو اکیڈمی پشاور یونیورسٹی پشاور، ۲۰۰۸ء، صفحہ ۵۳، ۵۴.

(20) سلمیٰ شاهین، روهي سندرې، اول جلد، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي پېښور، ۱۹۸۴ء مخ ۱۰۵